

ژوند راز

# د وخت غله پېژنئ؟

minutes read 8 wasiweb.com

منځپانګه:


1. د وخت غله مې په کور کې هم ارام نه پرېږدي
2. په دفتر کې هم خپل کار نه شم ترې کولی
3. په لاره کې هم راپسې دي
4. ځان کوڼ اچوم، بیا مې هم نه پرېږدي
5. د سهار له لمانځه مخکې مې دروازې ته ولاړ وي
6. په نیمه شپه کې هم نه ترې خلاصېږم
7. ځکه چې مونږ قران ته شا اړولې


عمر او عمر یعني د انسان تر ټولو ډېره ګرانه شتمني. که وخت نه وای نو نه مال په لاس راته، نه علم ترلاسه کیده اونه انسان په دې دنیا او هغه دنیا کې خپلو غوښتنو ته رسیده. نو آیا د خلکو د وخت د غلا کولو نه بله ډېره غټه غلا شته؟ آیا په مونږ کې داسې کس شته چې د وخت د غلا کیدو په اړه شکایت و نه لري؟ او ترې متأثره شوی نه وي؟ داسې غلا چې د لاسته راوړلو لپاره یې محکمې ته هم مراجعه نه شي کیدای ځکه چې د پیسو او مال غل د قانون پوسیله محاکمه کیږي مګر د وخت غل چې کله کله دا وخت له زرو لیرو نه هم ګران وي نه محاکمه کیږي او په خپل حال پرېښودل کیږي

**لیکنه: استاد علي طنطاوي**

**ژباړه: ډاکټر سید افتخار سادات**

## د وخت غله مې په کور کې هم ارام نه پرېږدي

زما له بدو عادتونو څخه یو دا دی چې د ټولو مقالو لیکنه او د ویناوو د متنونو برابرونه مې تر وروستۍ شیبې پورې ځنډولي وي تر څو چې په وروستۍ شیبه کې خپل ټول فکر په یو ځای په کار واچوم او د مقالو په لیکلو او د ویناوو د متنونو په ترتیبولو کې له بیړې نه کار واخلم یعني خپل کار لکه د سوی پشان په تیزۍ او چالاکۍ سر ته رسوم نه د کشپ پشان یې په ورو او یو د بل پسې ترلي ډول لکه چې فرانسوي اناتول وايي: ((پرېږده لافونتين هرڅه چې وايي ودي وايي مګر حقيقت دا دی چې سوی تل له کشپ نه میدان وړی دی.)) همدا وجه ده کله چې لیري ختیځ ما ته د دې وینا د اماده کولومکلفیت راکړ نو د دې ثبت مې بیروت ته د سفر له وخته دوه ساعته مخکې ته پرېښی وو. کله چې په خپله کوټه کې کښیناستم او د فکر په کولو مې پیل وکړ، موضوع مې لا نه وه غوره کړې او په سوچ کې لا نه وم ډوب شوی چې ناڅاپه مې د کوټې ور خلاص شو او دوه بیګانه او نا اشنا ځوانان چې په خپل ژوند کې مې هم نه وو لیدلي، بې له اجازې او ور ټکولو ـ لکه المان چې بلژیک ته ننوځي ـ زما کوټې ته را ننوتل. د یوه سر دومره غټ وو لکه د یوې ویروونکې یرې پشان، ویښتان یې لکه د جنګ نه تښتیدلي حبشي چرګ غوندې ببر او بریت یې چې نه د ختیځ مود وو او نه د لویدیځ، د انجونو د وروځو په شان نري، او د موږک د لکۍ پشان د خولې دواړو خواوو ته راځوړند. الله تعالی یې هم په څیره کې ډېره بدخویي اوشرارت ځای په ځای کړی وو ـ اعوذباالله ـ هغه بل یې د غوړونو د غاړو ویښته داسې خرېیلي وو ته به وایې چې د شپې خوب کې ترې پیشو څټلي.

دواړه کښیناستل، زه له کوټې نه ووتلم ترڅو پوښتنه وکړم چې دې لویې بلا ته چا زما د کوټې لاره ښودلې ده. پوه شوم چې کوچنۍ لور مې چې کله ټک ټک اوریدلی نو ور یې خلاص کړی او د میلمنو په لیدلو سره ـ د میلمه پالنې د ختیځوال عادت له مخې چې هیڅکله میلمه نه ځوابوي ـ هغوی ته د کور د ننوتلو اجازه ورکړې او د خپلو ورو ګوتو په مرسته یې ور ته زما کوټه په ګوته کړې تر څو چې د مرګ په شان ناڅاپه په مارا نازل شي. سلام یې واچاوو لیکن ما په یو ضعیف غږ اوغیر صمیمي ډول ور ته ځواب ور کړ او له هغوی نه مې زما د وسې د خدمت پوښتنه وکړه. دا یوه نوې اصطلاح ده چې د نن ورځې په بلاغت کې یې معنی ده: ځه لاړ شه زه در سره مرسته نه شم کولی! هماغه بد اخلاقه او ببر سری سړی په داسې حال کې چې ځان یې ځیرک اوپوه ګڼه مخکې راغی او په یوه داسې غږ سره چې نیم یې له پزې او نیم

يې له ګيډې را ووت په خبرو پيل وکړ چې نيمې يې تيرولې او په نيمو نورو يې شخوند واهه. زما په کوټه کې يې په ګرځيدو پيل وکړ. زه نو له قهره دومره ډک شوی يم چې هر رګ مي لکه د ليندۍ د تار په شان چې يو ځل ښه کش شوی وي او بيا بيرته پريښودل شي ټوپونه وهي.

ليکن هغه دهرې جملې په پای کې يوه خندا هم کوي داسې خندا چې د روزې د بنديدو سبب کيږي او له غرور نه داسې ځان ته ګوري لکه يوه زړه مينه ښځه چې د هينداړې مخې ته ځان ته ووايي واه واه څومره ښه!! څومره ښکلې يې!.

لنډه دا چې له دې مزاحمت نه د دوی مطلب دا وو چې غوښتل يې يوه ډرامه وليکي او د لومړي ځل لپاره يې زما په وړاندې چې زه يې له ښو اديبانو څخه ګڼلم وړاندې کړي. ما ور ته وويل چې د ننداري د وړاندې کولو وخت څومره دی؟ ويې ويل نيم ساعت. ما وويل: په دوه سوه ليري. که سر مي ستاسو په درد کړی نه وي نو کولای شئ نتيجه په خپله واخلئ.

له کور نه د وتلو په مهال يوه يې مخ راوګرځاوه او ويې ويل: ډيرمتأسف يم، مونږ له تانه هيڅ نه غوښتل همدومره چې يوساعت مو خپل راکړ بس دی!

يوازې يو ساعت وخت مې! دا هماغه موضوع ده چې ورپسې وم، آيا هغه وخت مي پيدا کړ؟ همدا زما غوره کړې موضوع ده: د وخت غلا، وخت يعنې عمر او عمر يعنې د انسان تر ټولو ډيره ګرانه شتمني. که وخت نه وای نو نه مال په لاس راته، نه علم ترلاسه کيده اونه انسان په دې دنيا او هغه دنيا کې خپلو غوښتنو ته رسيده. نو آيا د خلکو د وخت د غلا کولو نه بله ډيره غټه غلا شته؟ آيا په مونږ کې داسې کس شته چې د وخت د غلا کيدو په اړه شکايت و نه لري؟ او ترې متأثره شوی نه وي؟ داسې غلا چې د لاسته راوړلو لپاره يې محکمې ته هم مراجعه نه شي کيدای ځکه چې د پيسو او مال غل د قانون پوسيله محاکمه کيږي مګر د وخت غل چې کله کله دا وخت له زرو ليرو نه هم ګران وي نه محاکمه کيږي او په خپل حال پريښودل کيږي.

## په دفتر کې هم خپل کار نه شم ترې کولی

اوس څه بايد وکړم؟ او د وخت له غلو نه څنګه وتښتم؟ کله چې سهار شې نومحکمې ته ځم تر څو دوسيو ته لاس رسی وکړی شم. په دفتر کې کار کوم چې يو داسې دوست راځي چې نه خپلوي ور ته اهميت لري او نه دې ته ځير دی چې په دې شين سهار کې مزاحمت کول ښه کار نه دی. زه کوښښ کوم چې ور سره ښه چلن وکړم، زه ور سره دومره خبرې کوم چې پوه شم چې حق مې ور ادا کړی دی. دی غلی کيږي

اوزه هم په خپل کار کې بوختیږم. لا مې په فکر کولو او د دوسیو په ترتیبولو پیل نه وي کړی چې خوله یي خلاصیږي او یوه اریانوونکې ملغلره یې له خولې راوځې او وایي: نورځنګه یاست؟! ـ خدای دې وساته، شکر خدایه. په داسې حال کې چې په ما ډېر بوج او کار پروت دی او باید د څلویښتو نه زیاتو دوسیو ته ځان ورسوم او ختمې یې کړم. له همدي کبله سهار وختي محکمې ته راغلی یم.

ځان سره داسې وایم چې که مخاطب مې په ژبه نه پوهیدونکی ځناور هم وی نو زما حال ته به ځیر شوی وای او نور به یې زما مزاحمت نه کاوو. زه نو په کرارۍ سره خپل کار یو ځل بیا پیلوم. لږ دم لا تیرشوی نه وي چې یوه بله ملغلره یې له خولې راوځي او ووایي: د طلاق میزان په دې ورځو کې زیات شوی، همداسې نه ده؟ زه نو ور ته قانع کوونکي ځوابونه وایم او هغه غلی کیږي او زه بیا خپل کار له سره شروع کوم. خو په خپل کار کې لا ډوب شوی نه یم چې محترم بیا په خبروشروع کوي: قضاء ډېر سخت او سردردوونکی کار دی! زه نو د ډېره قهره ډک شوی یم او نژدې ده چې له ډېرې غُصې نه وچوم. ادب او نزاکت هیروم او غږ کوم چې: له تا نه ډېر زړه تنګوونکی او سردردوونکی بل څوک شته! لږ شیبه غلی شه چې زه خپل کار وکړم؟! دا ګران دوست ځي او زما په اړه یي چې څه له وسې کیږي وایي یې: هغه ډېر بد اخلاقه او تند خوی دی، په خپل کار باندې ډېر مغروردی، تر اوسه یې ادب اونزاکت نه دی زده کړی او همداسې نورې خبرې.

ښه ګرانه لوستونکیه زه اوس څه باید وکړم؟

## په لاره کې هم راپسې دي

په لاره پیاده روان یم او هڅه کوم چې بې له دې چې یوه دقیقه مي هم ضایع شي خپل د کارځای ته ورسیږم. ناڅاپه مې یو غټ خیټی سړی مخې ته راځي، ته به وایې چې یو بیړا دی چې ځمکه یې شکولې او له ځمکې نه راوتلی. ناڅاپه خپل لاس را ته را اوږدوي تر څو را سره ستړې مشي وکړي ـ داسې اوږده لاسونه لکه د نانوایي د ډوډۍ رااېستلو سیخان ـ او په خبرو پیل کوي. داسې خبرې کوي چې نه زما په کار راځي او نه یې د خپل درد دوا کیږي، داسې بیهوده خبرې چې ګیډه یي ترې ډکه کړې اوله ما نه ور ته بل بې عقل نه دی پیدا شوی چې ورته یي ووایي او خپله د آرامۍ ساه واخلي.

## ځان کوڼ اچوم، بیا مې هم نه پریږدي

کله له دېرش مترۍ نه راباندې غږ کیږي: استاد! زه ځان په ناخبرۍ اچوم اوقدمونه تیزوم لکه چې بیخي مې آواز نه وي اوریدلی مګر بیا چیغه وشي استاد طنطاوي!

استادطنطاوي!

خدایه شکر. زه اودریږم او صبر کوم تر څو هغه سړی چې غږ یې کړی راورسیږي، داسې غږونه کوي ته به وایې چې زه یې پوروړی یم او د پور د اخیستو وخت یې رارسیدلی دی، یا یو مجرم یم او هغه یو وظیفه پیژندونکی پولیس دی چې غواړي ما ونیسي، یا دا چې ماته مې یو له دوستانو نه چې زه یې نه پیژنم له طنطا څخه زیری راوړی دی. کله چې ماته را رسیږي نو وایي: استاد! خدای پوهیږي چې ستاسو د دیدار څومره تږی وم، څـــــنګه یئ؟ تاسو وواياست چې زه څه ډول غبرګون ښکاره کړم؟ هغه ووهم؟ بد رد ورته ووایم؟ په خپل حال یې پریږدم اوتري نه ولاړشم؟څه ور سره وکړم؟ خو وېرېږم چې خلک به وایي چې څه بې نزاکته سړی دی! هیڅ چاره نه لرم پرته له دې چې خبره سرسري ونیسم او پریږدم چې هر څه چې وایي ودې وایي. هغه دې ووایي چې زه دې د دیدن تږی یم او زه ووایم چې زه له تا نه زیات ستا د دیدن تږی یم په داسې حال کې چې مونږ دواړه دروغ وایو.

## د سهار له لمانځه مخکې مې دروازې ته ولاړ وي

ځینې چې سهار وختي له خوبه پاڅیږي ګمان کوي چې ټول خلک به د ده پشان وي. سهار شپږ بجې وي چې ور راوټکوي. ناڅاپه له بستر نه پاڅیږم ، ګورم چې یو میلمه مې د دروازې شا ته ولاړ دی چې لطف یې کړی او زما د حال پوښتنې ته راغلی دی. تاسو فکر وکړئ که یو څوک په روڼ سهار کې له بستر نه د کوټې د دروازې په لوري منډه واخلي په داسې حال کې چې نه یې مخ اولاسونه وینځلي وي، نه یې د خوب کالي بدل کړي وي او نه یې لا تر اوسه د سهار چای څښلی وي، په شین سهار کې د چا چټیاتو ته غوږ ونیسي؟

## په نیمه شپه کې هم نه ترې خلاصېږم

دا بل چې غونډه شپه یې په نیغه تیره کړې فکر کوي چې نور هم ده په شان دي. د شپې لس بجې ور راټکوي او کور ته راځي. زه خوب پرېږدم او تر نیمې شپې له هغه سره کښینم او اوتو بوتو ته یې غوږ نیسم. ښځه مې چې د ورځې د کور له کارونو نه ډیره ستړې شوې وي له خوبه پاڅوم ترڅو نوموړي محترم میلمه ته چای تیار کړي او دا لا څه کوې، چې که لږه مهرباني ور سره وښیې نو بیا خو لا شپه هم غواړي.

دا خو پرېږده چې دا دربیم مې په دروازه کې رانیسي، په داسې حال کې چې د بوټانو مزي مې لا سم نه دي تړلي او لا دفتر یا کوم بل ضروري کار ته نه یم روان شوی چې بیرته مې کور ته را ګرځوي تر څو ور سره کښینم او بیهوده خبرو ته یې غوږ ونیسم!

## ځکه چې مونږ قران ته شا اړولې

ګرانو خويندو او وروڼو تاسې خو زما خبرې واوريدې نو دا وواياست چې کله به د وخت په ارزښت پوهيږئ؟ کله به په دې پوهيږئ چې د يو چا د يوه ساعت وخت غلا کول داسې دي لکه چې د هغه له جيب نه مو يو دينار غلا کړی وي؟ کله به د قران لارښوونې د خپلې لارې مشال ګرځوئ؟

اوس نو د الله جل جلاله دا وينا په ياد راولو:(( لاتدخلوا بيوتاً غير بيوتكم حتى تستأنسوا)) دخپلوکورونونه پرته نورو کورونو ته بي له اجازې اخستلو مه ننوزئ!

((وان قيل لكم ارجعوا فارجعوا)) ا وکه درته وويل شول چې وګرځئ، پس وګرځئ.

خو د افسوس ځای دا دی چې اروپايانو زمونږ د دين آداب خپل کړي او په خپل ورځني ژوند کې يې پلي کړي مګر زمونږ حال دومره بد دی چې مونږ دغه ټول ارشادات بالکل هير کړي دي اوهيڅ عمل پرې نه کوو.

*ډاکټر سيد افتخار سادات*

Tags وخت ارواپوهنه